# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د جون ۷مه | ۷۲۸مه ګڼه


## کاروبار

۴ مخ

### بي ایم ډبلیو

بي ام ډبیلو دمګړی یوازې په آلمان کې نه ده؛ بلکې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې فعال کارځایونه او څانګې لري. زرګونه کسان کار ورسره کوي او په نړۍ کې میلیونونه مینه‌وال لري.



## د سولې کاواکه بهیر او د جګړو شدت؛

### له تېرو دریو ورځو راهیسې د سختو جګړو او ښتو له کبله اووه ولسوالۍ سقوط شوي



۳

امریکا لا هم په افغانستان کې د سولې په لټه کې ده؟

۲ مخ

د امریکا لوبه؛ افغانستان او پاکستان په دام کې ګېرول غواړي

۲ مخ

د ځمکو د صحرایي کېدو مخنیوی، د ټولو ګډه دنده ده

۳ مخ

### کرنې وزارت: په شکردرې ولسوالۍ کې د شپږو میلیونو ډالرو په لګښت د معیاري مسلخ چارې بشپړې شوې



کرنې وزارت وایي چې د کابل په شکردرې ولسوالۍ کې د شپږو میلیونو ډالرو په لګښت د یوه معیاري مسلخ یا د حیواناتو د حلالولو ځای چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د یاد وزارت د کرنې او مالدارۍ مرستیال شېرشاه امیري وایي چې دا مسلخ له هغو پنځو لویو مسخلونو څخه دی، چې د هېواد په څلورو زونونو کې د اسیایي پراختیایي بانک د ۳۰ میلیونو ډالرو په مالي لګښت جوړ شوي دي. د هغه په خبره: «د شکردرې مسلخ د جوړولو ټولیز لګښت شپږ میلیونه ډالر دی او د دغه مسلخ د جوړولو موخه خلکو ته روغه او کیفیت لرونکې غوښه چمتو کول دي.»

نوموړي وایي، دا مسلخونه په معیاري ډول جوړ شوي، چې څاروي پکې په اساسي ډول ذبحه او غوښه یې پروسس کېږي او د اوږد مهال لپاره ساتل کېږي. امیري دغه راز وویل، کرنې وزارت ژمن دی، چې خلکو ته د مالدارۍ او په کرنیزو برخو کې پروژې پلې کړي.

### د بشري حقونو کمېسیون: ښکېلې خواوې دې د جګړې پر ځای د سولې لار خپله کړي

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو ځل بیا پر ښکېلو لورو غږ کړی، چې جګړه پای ته ورسوي او د سولې لار خپله کړي.

د دغه کمېسیون مشرې او کمېشنرانو د یاد کمېسیون د تاسیس د ۱۹کال په نمانځغونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې دمګړی دوی د بشري حقونو د خوندیتوب او لا پرمختګ پر ځای په دې بوخت دي، چې څنګه وکړی شي د ملکي وګړو ژوند خوندي کړي او د جګړو په کمولو کې ونډه واخلي.

د یاد کمېسیون غړي وایي، د مذاکراتو پر دواړو ټیمونو د افغانانو حق دی، چې ژر تر ژره سوله راولي او دلته رامنځ ته شوی خونړی او وحشتناک وضعیت پای ته ورسوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دغه راز ټینګار کوي چې جنګي جنایتونه د پټېدو نه دي او زیاتوي چې جنګي جنایتکاران به ارو مرو د قانون منګولو ته سپارل کېږي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون سوله په هېواد کې د ولسونو د ارمانونو د پوره کېدو یوازینۍ لار بولي او په خبره یې، روانې جګړې یوازې وحشت خپروي او د افغانانو ژوند اخلي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون داسې مهال د جګړې له ښکېلو غاړو د سولې غوښتنه کوي، چې د افغان حکومت د سولې مذاکراتي پلاوي دوحې ته رسېدلي او ټاکل شوې چې ډېر ژر به د دواړو لورو ترمنځ په ټپه ولاړ مذاکرات بېرته پیل شي.

### خلیلزاد: دواړه لوري دې تاوتریخوالی را کم او د سولې جدي خبرې پیل کړي



۲ مخ

### اتمر: بدون همکاری پاکستان قطع خون‌ریزی و پیش‌رفت در صلح ممکن نیست



محمدحنیف اتمر، وزیر خارجه کشور، میگوید که بدون همکاری پاکستان قطع خونریزی و پیشرفت در صلح ممکن نیست. او دیروز در نشستی خبری در هرات گفت دولت و مردم افغانستان به خوبی درک میکنند که بدون همکاری پاکستان، ممکن نیست در قطع خونریزی و در صلح پیشرفت حاصل شود.


وی افزود: «همکاری با پاکستان برای دولت و مردم افغانستان حتمی است و بر این باور هستیم که در هر حالت گفتوگو و همکاری را باید با پاکستان حفظ کنیم». او همچنان در مورد قطع روابط دیپلماتیک حکومت پاکستان و حمدالله محب، مشاور امنیت ملی کشور، گفت که مشاور امنیت ملی از نام افغانستان روی مساله قطع خونریزی و پیشرفت در صلح تأکید کرده و این دو مساله نگرانی مردم و دولت افغانستان است.

از دید آقای اتمر، حالت ایجاد شده در مناسبات بینالمللی حالتی نیست که خاص برای افغانستان و پاکستان ایجاد شده باشد و وی از ایجاد این حالت متاسف است، اما حکومت افغانستان نمیگذارد این مساله مانع همکاری بین دو دولت شود.

این مقام ارشد دستگاه دیپلماسی کشور پافشاری کرد که آمادهگیهای لازم برای سفر رئیس جمهور غنی به ایالات متحده امریکا روی دست گرفته شده و وزارتهای خارجه افغانستان و امریکا در این مورد کار میکنند.

به دنبال سخنرانی حمدالله محب، مشاور امنیت ملی افغانستان در ولایت ننگرهار، شاهمحمود قریشی، وزیر خارجه پاکستان اعلام کرد که کشورش روابط دیپلماتیک خود را با مشاور امنیت ملی افغانستان قطع کرده است.


## تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

### امریکا لا هم په افغانستان کې د سولې په لټه کې ده؟

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی کابل ته راغلی او دلته یې له چارواکو او سیاستوالو سره خبرې پیل کړې دي. د خلیلزاد په حواله ویل شوي چې نوموړی له خپل ټیم سره راغلی چې له افغانستان سره د اړیکو او همکاریو پر نوي څپرکي خبرې وکړي. له ترهگرۍ سره جگړه، د افغان امنیتي ځواکونو ملاتړ او اقتصادي مرستې د دې نوي څپرکي مهمې برخې گڼل شوي دي. نوموړي له ډاکټر عبدالله سره په لیدنه کې ویلي چې د سولې د پروسې ملاتړ کوي او اوس د دې وخت دی چې دواړه لوري تاوتریخوالی کم کړي او خبرې پیل کړي. پوښتنه دا ده چې د خلیلزاد د دې ځل ماموریت اصلي موخه څه ده او د افغانستان د سولې پروسې په اړه د امریکا دریځ څه دی؟

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو ځرنگوالي او د دوحې د هوکړې په اړه د امریکا دریځ ته په کتو سره ښکاري چې امریکا اوس یوازې د خپلو ځواکونو ایستل مهم گڼي او د افغانستان د سولې پروسې ته لېوالتیا نه لري. که څه هم خلیلزاد به د سولې شعارونه ورکوي او په دې اړه به سفرونه هم کوي، خو د امریکا له عملي سیاست څخه ښکاري چې دوی په افغانستان کې د سولې په لټه کې نه دي او غواړي چې دلته جگړه او وژنې دوام وکړي. دوی په دوو دلایلو نه غواړي چې د افغانستان د سولې پروسه بریالۍ شي: لومړی دا چې که امریکا ووځي او د سولې پروسه بریالۍ شي، د دې مانا دا ده چې امریکا په افغانستان کې جنگ جوړ کړی و او چې کله امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووتل، نو سوله راغله. امریکا نه غواړي نړۍ ته همداسې تصویر ورکړي او د افغانستان د جگړې او هلته د شوو جنایتونو پړه او مسوولیت ومني. دویم دا چې امریکا نه غواړي طالبان په داسې ډول حکومت او سیاست ته را گډ شي چې زور او قوت ولري، ځکه دا لاره به بیا نورې جهادي ډلې هم تعقیب کړي او طالبان به ورته الگو شي. له همدې امله امریکا نه یوازې د سولې په برخه کې اساسي هڅې نه کوي، بلکې کړنې یې د جنگ او وژنې د دوام سبب کېږي.

د جگړې د دوام لپاره امریکا غواړي چې دا ځل یې سیمه‌ییز هېوادونه په افغانستان کې دنده پر مخ یوسي. غواړي له حکومت سره خپلې اړیکې وساتي، مرستې وکړي، خو اساسي کار به سیمه‌ییز هېوادونه ورته کوي. دوی غواړي هند، ایران، سعودي، متحده عربي امارات او ځیني نور هېوادونه د افغانستان د حکومت ملاتړ وکړي او په دې ډول حکومت له طالبانو سره جگړه پر مخ یوسي. دا چاره به د دې سبب شي چې حکومت سقوط ونه کړي، خو طالبان به نورې سیمې او آن ولایتونه هم ونیسي. په دې ډول به د طالبانو او حکومت ترمنځ جگړه وي، افغانان به وژل کېږي، طالبان به خپل بهرني ملاتړي لري او حکومت به هم خپل بهرني ملاتړي ولري.

پر دې بنسټ له امریکا سره د افغانستان د سولې پلان نشته او نه هم غواړي سوله وشي. دا زموږ افغانانو مسوولیت دی چې پرې نه ږدو جگړه دوام وکړي او باید د سولې لپاره په بین الافغاني کچه پراخې هڅې وکړو او خپله یو بل ته لاسونه ورکړو، څو د جگړې د دوام مخه ونیول شي.

# د امریکا لوبه؛ افغانستان او پاکستان په دام کې گیرول غواړي

ژباړه: کفایت الله نافع

په افغانستان کې د سولې لپاره لاهم امیدونه شته، خو د پخلاینې او سیاسي حللارې لپاره هیلې کمې ښکاري.

اندېښنې مخ په ډېرېدو دي چې افغانستان د داسې یو ناورین په لور روان دی، چې (خدای ناخواسته) موږ به تېر ټول ناورینونه هېر کړو او په نتیجه کې پاکستان سره هم داسې اشتباه کېدونکې ده چې د چا ورته بیخي پام هم نه دی.

د پاکستان لومړی وزیر او د هغه کابینه په پورته خبرو ښه پوهېږي، دا هیڅ په دوی پورې تړلې هم نه ده او هیڅ رول هم پکې نه لري؛ خو دوی ملت په بې ځایه سیاسي خبرو مصروف ساتلی دی.

د افغانستان په اړه د پاکستان د تېرې احمقانه پالیسۍ پلویان د خوشالۍ جشنونه کوي، چې افغانستان خپلواک کېږي او هلته د پاکستان تر نفوذ لاندې طالبانو حاکمیت را روان دی، چې د پاکستان گټې به خوندي کوي، خو د ستراتیژیک ژوروالي او مذهب په نوم د پاکستان په لومه کې غورځوونکو له عقل خلاصو ته دا معلومه نه ده، چې افغانستان به په بد ډول غرق او پاکستان به په لومه (دام) کې گیر شي.

په داسې حال کې چې په قطر کې خبرې روانې دي، جو بایډن په ښکاره ډول سیمه ییز قدرتونه روسیه، چین، ایران، هند او ترکیه د افغانستان د سولې په پروسه کې شامل کړي دي او د امریکایي سرتېرو وتل په بشپړ ډول روان دي او داسې برېښي چې د سیاسي حل په لټه کې وي؛ مگر حقیقت دا دی چې افغان حکومت او طالبان له یو بل سره د پخلاینې لپاره همفکره او همنظره نه دي.

په پاکستاني رسنیو کې د دې خبرونو او موضوعاتو لپاره هیڅ ځای نشته؛ مگر وضعیت دا دی چې له تېر یوه کال راهیسې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې تر ټولو ناوړه جگړه روانه ده. امریکایان یوازې ننداره چیان دي.

امریکا په طالبانو یو ډز هم ونه کړ او طالبانو هم د امریکایانو پر وړاندې ورته عمل تر سره کړ. په داسې حال کې چې افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو له شمال څخه تر جنوب پورې جگړه گرمه کړې او په لسگونه افغانان هره ورځ پکې وژل کېږي، د پخلاینې هیڅ امکان نشته او ټولې ډلې وسلې (زېرمه) ذخیره کوي.

د اوسني وضعیت له مخې افغانانو دوبۍ، پاکستان او نورو هېوادونو ته د کډوالۍ په پار هڅې پیل کړې دي.

طالبان شپه او ورځ په نظامي روزنه بوخت دي او یو لک منظم او معاش لرونکي اردو جوړوي. تر ټولو خطرناک اړخ دا دی چې امریکا پخپله د سولې په راوستلو کې جدي نه ښکاري، که څه هم د زلمي خلیلزاد هلې ځلې او سفرونه دوام لري.

په ښکاره ډول، امریکا د وتلو لپاره اندېښمنه ده او د سیاسي پروسې د بریا لپاره لېواله ده، مگر د هغې عملي گامونو او پالیسیو ته که ژوره کتنه وشي، هغه ناوړه واقعیت په گوته کوي، چې امریکا خپله په قصدي ډول په افغانستان کې د کورنۍ جگړې لپاره لاره هواروي.

امریکا د اشرف غني په مشرۍ حکومت یو اړخ ته پرېښود او له طالبانو سره یې خبرې پیل کړې، چې د افغان حکومت او اپوزیسیون حیثیت یې له اسمان څخه ځمکې ته ښکته (له خاورو سره یې خاورې) کړ.

د دوی د غوښتنې خلاف، امریکا په قطر کې له طالبانو سره تړون لاسلیک کړ چې په هغې کې یې طالبانو ته ډېر امتیاز ورکړی، چې خپله امریکا پکې هېڅ هم تر لاسه نه کړل. امریکا په دغه تړون کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو خبره منلې، خو له طالبانو یې د اوربند هیڅ ضمانت نه دی غوښتی.

د هوکړې له مخې، امریکا د اشرف غني له حکومت څخه په زوره پنځه زره طالب بندیان خوشې کړل، خو په ځواب کې یې طالبانو ته وویل چې له افغان حکومت سره دې خبرې پیل کړي. خو دا خبره پکې بیخي واضحه شوې نه ده، چې که چېرې دې خبرو کومه پایله ورنه کړه، نو څه به وشي؟ په دې کار سره له یوې خوا د افغانستان حکومت بې اهمیته شو او بل لور ته د طالبانو مورال له ځمکې اسمان ته پورته شو.

طالبانو ته خپل ځان د یو بریالي ځواک په توگه مطرح شوی، ځکه چې د امریکا او ناټو په څېر زبر ځواک متحدینو ته یې ماتې ورکړې. نو ځکه دوی افغان حکومت د امریکایانو گوډاگی گڼي او هیڅ په قصه کې یې نه دي او پاکستان ته هم د کوم ځانگړې اهمیت ورکولو لپاره چمتو نه دي.

د قطر له پرېکړې وروسته، نړۍ طالبانو ته د راتلونکو واکمنانو په سترگه گوري. د نړۍ هر هېواد له دوی سره د ښو اړیکو لپاره گامونه واخیستل. که څه هم طالبان له خبرو اترو انکاري نه دي، مگر له افغان حکومت سره په بین الافغاني مذاکراتو کې هم جدي نه دي، دوی پوهېږي چې ډېر ژر یا وروسته به د کابل واگې په لاس کې واخلي.

دوی پوهېږي کله چې د جگړې له لارې خپل اسلامي امارت بیرته فعالولی شي، نو بیا د مذاکراتو او اساسي قانون په اړه ولې فکرونه وکړي؟ له بلې خوا، اشرف غني او د هغه پلویان چې په حکومت کې دخیل دي، په دې باور دي چې له طالبانو سره د خبرو اترو د بریا لومړی گام به لنډمهاله حکومت وي، مطلب یې دا شو دوی نور رخصت دي.

عبدالله عبدالله، رشید دوستم، استاد محقق چې د غیر پښتنو افغانانو استازولي کوي، د خپل زور په اندازه برخه به تر لاسه کړي، حتی که د حامد کرزي په څېر پښتانه هم وي یو څه ونډه به تر لاسه کړي، خو اشرف غني او د هغه پلویان به هیڅ ځای تر لاسه نه کړي.

که څه هم افغان حکومت د مذاکراتو د بریا لپاره ډېر په تلوار کې برېښي، خو په عمل کې د یادې پروسې د پرمختگ څرک نشته. د اشرف غني حکومت ته د طالبانو غوښتنې عملي کول دومره ناممکن دي لکه طالبانو ته د اشرف غني د حکومت غوښتنې منل چې ناممکن دي.


بل لور ته طالبان له پاکستان څخه ډېر ناراضه په نظر برېښي. په تېر یو کال کې د امریکا په فشار پاکستان په طالبانو دومره فشار راوړ او یا یې هم راوړي چې د دواړو ترمنځ یې فاصله ورځ تر بلې په ډېرېدو کړې ده. طالبان په دې ناراض دي چې ولې پاکستان دا دریځ غوره کړی او ولې د تېر په څېر اسلامي امارت منلو ته تیار نه دي.

امریکا په پرله‌پسې ډول خپله طالبانو ته امتیازات ورکوي، مگر پاکستان په دوامداره توگه پر طالبانو فشار راوړلو ته مجبوروي چې دا ومني او هغه ومني، څو د دوی ومنې، که څه هم پوهېږي چې طالبان د هېڅا غوښتنو منلو ته چمتو نه دي. امریکا ټولې کړنې چې له هر لوري وتلې، هغه د طالبانو د پیاوړتیا سبب کېږي.

امریکا له افغانستان څخه تښتي، خو له پاکستان څخه د افغانستان د څارنې په پار د اډو غوښتنه کوي. دا اوس څه دي؟ یانې څه؟ زه فکر کوم چې د خپلو ځواکونو په وتلو سره امریکا غواړي په افغانستان کې اور لمبه کړي، چې دا اور به په ځانگړې ډول پاکستان او په ټوله کې چین او ایران وسوځوي.

بدبختانه چې د طالبانو او افغان حکومت د ناوړه چلند له امله، امریکا په دغه ناوړه لوبه کې بریالۍ برېښي. د امریکا د دې توطیې د شنډولو یوازینۍ لار په افغانستان کې د طالبانو او افغانانو لپاره دا ده، چې جگړه پای ته ورسوي او یو بل په غېږ کې ونیسي. یا د چین، ایران، روسیې او پاکستان په منځگړیتوب په گډه سره په سلا او مشوره د خپل پرمختگ لپاره کار وکړي.

# خلیلزاد: دواړه لوري دې تاوتریخوالی را کم او د سولې جدي خبرې پیل کړي



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی او ورسره مل پلاوی یې کابل ته راغلي او دلته یې له ولسمشر غني او لوړپوړو افغان چارواکو سره کتلي دي.

ارگ وایي، یاد پلاوي له ولسمشر غني او افغان چارواکو سره کتلي او د سیاسي، ډیپلوماټیکو، امنیتي او دفاعي، بشري او د اقتصادي همکاریو په دوام یې خبرې کړې دي. له ارگه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د امریکا گډ پلاوي له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو سره د ۳،۳ میلیارده ډالرو کلنۍ مرستې ته په اشارې له افغان ځواکونو په ځانگړې ډول هوایي ځواکونو او د بشري حقونو په برخه د امریکا حکومت پیغام له افغان چارواکو سره شریک کړی دی.

د سرچینې په خبره، یاد پلاوي له ولسمشر غني سره په لیدنه کې ویلي: «د امریکا متحده ایالتونه له یوه خپلواک، بې‌پرې، ډیموکراټیک او سوله‌ییز افغانستان ملاتړ کوي، څو د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې وساتل شي.»

په ورته مهال د ملي مصالحې عالي شورا وایي، له عبدالله عبدالله سره په کتنه کې امریکایي پلاوي د خپل سفر موخه د امریکا او افغانستان ترمنځ د همکاریو د نوي فصل او اړیکو په اړه خبرې بللې دي.

دې شورا د زلمي خلیلزاد له قوله لیکلي، هېواد یې له افغان سولې بشپړ ملاتړ او په دې برخه کې د سیمه‌ییزې او نړیوالې اجماع د پیاوړتیا لپاره هڅې کوي. خلیلزاد زیاته کړې، هغه وخت را رسېدلی چې دواړه لوري تاوتریخوالی را کم او د سولې جدي او پایله ورکوونکې خبرې پیل کړي.

د زلمي خلیلزاد په مشرۍ له دغه پلاوي سره په کتنه کې عبدالله عبدالله بیا د جگړې پر پای ته رسېدو ټینگار کړی او زیاتوي، خلک باید د بې مانا جگړې قرباني نه شي او هېڅ لوری باید دا تېروتنه و نه کړي چې د جگړې له لارې ځانونه گټونکي وښیي.

خلیلزاد داسې مهال کابل ته راځي، چې په دوحه کې هم د سولې خبرو د بیا ځلي پیل لپاره هڅې روانې دي. د دې هڅو په دوام د امنیت او خوندیتوب په برخه کې د ملگرو ملتونو د سرمنشي مرستیال ژیل مېشو او د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د سرمنشي ځانگړې استازې دیبرالاینز د افغانستان له مرکچي او طالب پلاوي سره کتلي دي. په دې کتنو کې د سولې له روانې پروسې په ملاتړ او یوې داسې هوکړې خبرې شوي، چې ټولو افغانانو ته د منلو وي.

# د ځمکو د صحرايي کېدو مخنيوی، د ټولو گډه دنده ده



لیکواله: غوټۍ؛ د چین میډیا گروپ خبریاله

د جون پنځمه نېټه د چاپيريال له نړيوالي ورځې سره برابره ده، چې په ۱۹۷۲ کال کې د ملگرو ملتونو د ۲۷مې عمومي اسامبلۍ لخوا ټاکل شوې ده. له همغه کال راهيسې بېلابېلو هېوادونو او سيمو د دې ورځې د لمانځنې لپاره ځينې فعاليتونه تر سره کړي دي او کوي يې، څو په ټوله نړۍ کې چاپيريال ته د بشر د کړنو له امله زيانونه کم شي او چاپيريال ښه وساتل شي. سږ کال به بېلابېلي خواوې د دغې ورځې په مناسبت د ايکولوژيک سيستم د بيا اعاده کېدو تر عنوان لاندې د بشر او طبيعت ترمنځ همغږۍ پياوړې کړي.

د خاورو صحرايي کېدل له تېرو څو کلونو راهيسې د بشريت پر مخ د ايکولوژۍ او چاپيريال له ډېرو سختو مسئلو څخه يوه شمېرل کېږي. د ملگرو ملتونو د سندونو له مخې، اوس په ټوله نړۍ کې يو په پنځمه خلک او يو په درېيمه خاوره د صحرايي کېدو له گواښ سره مخامخ دي او له دې امله هر کال اقتصاد ته د څه باندې ۴۰ ميلياردو امريکايي ډالرو زيانونه رسېږي. په عين وخت کې، د صحرايي سيمو د پراخوالي کلنۍ سرعت له ۵۰ زرو مربع کيلومترو څخه تر ۷۰ زرو مربع کيلومترو پورې دی.

افغانستان په وچه کې راگير هېواد دی، هوا يې وچه ده او لږ بارانونه پکې ورېږي. د خبر له مخې، له ۲۰۱۷ کال څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې، په دغه هېواد کې د وچکالۍ له امله زراعتي بحران رامنځته شوی و، په تېره بيا د دغه هېواد په لوېديځو او شمالي برخو کې د غلودانو د کمښت له امله بې شمېره خلک کډوالۍ ته اړ شوي وو. اوس د افغانستان په گډون زياتو هېوادونو کې صحرايي کېدل نه يوازې يوه ايکولوژيکه مسئله ده، بلکې د ټولنې د بېوزلۍ او گډوډۍ سبب هم گرځېدلې ده. د لومړنيو شمېرو له مخې، له ۲۰۲۱ کال څخه تر ۲۰۵۰ کال پورې به د افغانستان په ډېرو سيمو کې د وچکالۍ اندازه زياته او د صحرايي کېدو ستونزه به يې تېزه شي.

موږ بايد له کومې لارې د صحرايي کېدو ستونزه لرې کړو؟ څنگه کولای شو چې صحرا بيا زرغونه کړو؟ د امريکا د فضايي څېړنو اداره (NASA) د مصنوعي سپوږمکۍ د پلټنې له مخې، له ۲۰۰۰ کال څخه تر ۲۰۱۷ کال پورې په ټوله نړۍ کې د خاورو د زرغونېدو د عمومي مساحت يو په څلورمه برخه په چين کې وه، چې دغې اندازې په ټوله نړۍ کې لومړی مقام نيولی دی.




ما تېره مياشت د چين د داخلي مغوليستان کورواکې سيمې د وردوس ښار هانگ جين ولسوالۍ د کوبوچي صحرايي سيمې د ايکولوژيکې اداري سيمې ته سفر کړی و. د دغې صحرا مساحت په نړۍ کې نهم مقام نيسي. په پخوا وختونو کې دغه سيمه د مړينې سمندر په نوم يادېده او د سخت چاپيريال له امله هلته زراعتي او صنعتي چارې وروسته پاتې وې او ټولنه او کلتور يې هم خراب کړي وو. د تېرې پېړۍ له اتمې لسيزې راهيسې، ځايي اوسيدونکو د حکومت تر لارښوونې او مرستې لاندې د ۶۰۰۰ کيلومترو مربع په پراخوالي صحرا اداره کړې او د ۳۲۰۰ کيلومترو مربع په پراخوالي صحرا يې زرغونه کړې ده. هغوی د اوبو د فشار له لارې د نيالگيو د کېنولو د ځانگړې طريقې په گډون، ۳۴۳ ډوله علمي او تخنيکي نوښتونه تر سره کړي او په دې رڼا کې د صحرا د زرغونېدو د لگښت د کمښت تر څنگ د نيالگيو د زرغونېدو اندول له دېرش سلنې څخه نوي سلنې ته لوړ شوی دی. پردې سربېره، ځايي اوسيدونکي د بادي، لمريزو او گرمو انرژيو په گډون له صحرايي انرژيو څخه د استفادې ترڅنگ زراعتي چارې، د کورنيو ژويو روزنيزې چارې، سيلانۍ او د بېوزلۍ د له منځه وړلو چارې هم پياوړې کوي. د شمېرو له مخې، د ځايي اوسيدونکو کلنۍ- منځنۍ عايدات په ۱۹۷۹ کال کې له ۱۷۵ يوانو څخه په ۲۰۱۸ کال کې تر ۱۸ زرو يوانو پورې زيات شوي وو، چې له دې جملې څخه يې لس زره يوانه گټه د صحرا د اداري له لارې تر لاسه کړې ده.

ويل کېږي چې ځايي خلکو په کوبوچي سيمه کې د صحرا د اداري او زرغونېدو په بهير کې د ايکولوژۍ، اقتصاد او ټولنې په ساحو کې د ليدو وړ برياليتوبونه تر لاسه کړي دي او په دې رڼا کې دوی له صحرايي زېرمو او انرژيو څخه ښه استفاده کوي، له صحرا سره ښه همغږي ساتي او بشريت او طبيعت يو له بل سره ښه سلوک کوي.

په وردوس ښار کې په ۲۰۰۷ کال کې د کوبوچي لومړی نړيوال صحرايي فورم تر سره شو. دغه فورم په ټوله نړۍ کې د صحرايي کېدو د مخنيوي او د شين اقتصاد د پياوړتيا په هکله يوازينی لوی نړيوال فورم و، چې تر اوسه يې اووه دورې په برياليۍ توگه تر سره شوې دي. د ۲۰۱۳ کال په سپټمبر مياشت کې د ملگرو ملتونو د صحرايي کېدو د مخنيوي تړون د لاسليک کوونکو هېوادونو په ۱۱مه غونډه کې دغه فورم د صحرايي کېدو د مخنيوي په اړه د يوې مهمې نړيوالې صحنې په توگه وټاکل شو. دغه راز، د ملگرو ملتونو د چاپيريال ساتنې اداري په ۲۰۱۴ کال کې د کوبوچي سيمه د ايکولوژيک اقتصاد د نمونوي سيمې په توگه وټاکله. له دې څخه څرگندېږي چې د صحرايي کېدو د مخنيوي او د صحرا د زرغونېدو په برخه کې د چين تجربې او نوښتونه د ټولې نړۍ لخوا منل شوي او لا هم د خپرېدو په حال کې دي.

د يو کمربند او يوې لارې وړانديز د پلي کېدو له امله به د چين ښې تجربې او نوښتونه د افغانستان په گډون، د ورېښمو لارې په اوږدو پرتو هېوادونو کې خپرې شي او ښه رول به ولوبوي، چې دا به په ټوله نړۍ کې د چاپيريال ساتنې او د پرله‌پسې پرمختگ د پياوړتيا لپاره گټورې وي.

د چين د دولت رييس شي جين پينگ څو مياشتې مخکې د اقليمي بدلون د مخنيوي په نړيواله سرمشريزه غونډه کې د بشريت او طبيعت د همغږۍ د پياوړتيا، پر شين پرمختگ د ټينگښت د سيستمي اداري د ژورتيا، د خلکو د گټو د ساتنې، پر څواړخيزم د ټينگښت او د مختلفو او گډو دندو پر اصولو د ټينگښت په گډون شپږ فقره ييز وړانديز وکړ. نوموړي په پوره او هراړخيزه توگه د بشريت او طبيعت د ټولنې مفکوره بيان کړه. دا د ځمکې کرې د چاپيريال ساتلو لپاره د چين لايحه ده او له دې څخه د يو لوی هېواد په توگه د چين مسوولانه رويه څرگندېږي.

بشر يوازې يوه کره لري، نو بېلابېل هېوادونه بايد د صحرايي کېدو او اقليمي بدلون د مخنيوي او د چاپيريال ساتلو لپاره لا ښې همکارۍ وکړي او په جدي توگه دې تر ۲۰۳۰ کال پورې د ملگرو ملتونو د پرله‌پسې پرمختگ جريان پلی کړي. دا زموږ پر غاړه گډه دنده او يوازينۍ سمه لار ده.

# د سولې کاواکه بهير او د جگړو شدت؛

## له تېرو دريو ورځو راهيسې د سختو جگړو او نښتو له کبله اووه ولسوالۍ سقوط شوي



له تېرو دريو ورځو راهيسې د هېواد په گوټ گوټ کې د سختو جگړو او نښتو له کبله اووه ولسوالۍ سقوط شوي او د جگړې دواړو خواوو ته پکې درنه مرگ ژوبله اوښتې ده. د راپورونو له مخې، د هرات فارسي، د زابل شينکۍ، د غزني ده يک، د نورستان منډول او دواب، د ارزگان گېزاب او د فارياب قيصار هغه ولسوالۍ دي، چې په تېرو دريو ورځو کې تر سختو جگړو او نښتو وروسته د طالبانو لاس ته لوېدلې دي.

په ورته مهال ملي دفاع وزارت بيا وايي چې امنيتي ځواکونو له دغو ولسواليو تاکتيکي شاتگ کړی او د تازه امنيتي پلان له مخې ډېر ژر به له لاسه وتلې سيمې بېرته د دوی تر کنټرول لاندې راشي. د دغه وزارت وياندې روح الله احمدزی وايي: «په جگړه‌ييز وضعيت کې تکتيک ته په کتو، مخکې تگ او شاته تگ شته، په سيمې زموږ ځواکونه لا هم شته، خو د امنيتي گواښونو د له منځه وړلو او د وضعيت د ښه والي لپاره په يوه نظامي پلان کار کېږي، چې ډېر ژر به ورسره وضعيت عادي حالت ته راوگرځي».

د جگړو له شدت سره جوخت د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړی استازی زلمی خليلزاد کابل ته راغلی او دلته يې له لوړپوړو افغان چارواکو سره پر سولې او دوه اړخيزو همکاريو خبرې کړې دي. نوموړی هڅه کوي چې د افغان سولې په ټپه درېدلی حالت بدل کړي او د سولې په خبرو کې چټکتيا رامنځته شي. خليلزاد دغه راز له دواړو لورو غوښتي چې جگړې کمې او پر سولې تمرکز وکړي. هغه زياته کړې: « هغه وخت را رسېدلی چې دواړه لوري تاوتريخوالی را کم او د سولې جدي او پايله ورکوونکې خبرې پيل کړي».

بلخوا د سولې وزارت چارواکي وايي چې په دوحه د سولې د دواړو مذاکراتي ټيمونو ترمنځ د همغږۍ ناستې پيل شوي او ډېر ژر به د سولې رسمي خبرې هم ورسره پيل شي. د ياد وزارت وياندە ناجيه انوري زياتوي چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د سولې مذاکراتي پلاوي ځينې غړي دوحې ته رسېدلي او پاتې نور به هم ژر ورسېږي، چې د دوی له رسېدو سره سم به د سولې خبرې هم بېرته پيل شي .

په ورته مهال د سياسي چارو کارپوهان بيا يوې پايلې ته د سولې خبرو د رسېدو لپاره بهرنی فشار اړين بولي او ټينگار کوي، که پر دواړو لورو بهرني فشارونه ډېر نه شي، د سولې خبرې به له خنډ او ځنډ سره مخ وي او په دې سره به جگړې نورې هم ډېرې شي. د سياسي چارو کارپوه هدايت الله پکتين زياتوي، چې د افغان سولې د مذاکراتي ټيمونو ترمنځ د خبرو پرله پسې خنډ او ځنډ له کبله د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړی استازی اړ کړ، ترڅو افغانستان ته سفر وکړي او د سولې خبرو روان بن‌بست له منځه يوسي.


په هېواد کې جگړې داسې مهال شدت پيدا کوي چې ټاکل شوې د روان کال تر سپټمبر مياشتې به ټول بهرني ځواکونه له افغانستان ووځي، خو د سولې خبرې لا هم له نامعلوم برخليک سره مخ دي او يوې پايلې ته نه دي رسېدلي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او اډیتیا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

## اوومه برخه
### د جاسوسانو شورا




زما غوښتنه دا ده، چې په ډیلي او اسلاماباد کې د مرکزونو پوستونو ته باید مشران اعلان شي. دا به د دواړو خواوو ترمنځ د ناستې رابللو او اړیکو چاره اسانه کړي. په اوسني وخت کې مسایل ځرگند او دا روښانوي، چې څوک، څوک دی. هر استخباراتي سازمان په سفارت کې افسران لري، چې په ځرگنده نه اعلانېږي، نو دا پرانستی پوسټ کېدای شي همدا د مرکز مشر یا د هغه/هغې مرستیال وي.
د هند له نظره په اسلاماباد کې د نوي ډیلي په پرتله څارنه ډېره سخته ده او دغه کار په اسلاماباد کې زموږ کسان له ستونزو سره مخامخ کړي دي، چې د ځینو کار هېڅ پایلې ته نه رسېږي. نو چې یو افسر لاسته راوړنه ونه لري، ولې یې باید اسلاماباد ته ولېږو؟ همدغه ټکي ته په کتو سره ډېر کسان اسلاماباد ته تگ ته زړه نه ښه کوي، خو ترې پیاوړي افسران مو باید هلته وگومارل شي. ما او جنرال صېب په خپله پاڼه کې «خرې» سیمې نه دي یادې کړې. که څه هم له سیاسي ملاتړه برخمن وي، خو کېدای شي ډېر داسې شیان ترسره شي، چې ځرگند، پرانستي او ژر د محاسبې وړ نه وي. زموږ استخبارات پرانیستی لاس «د عمل ازادي» نه لري، خو ISI یې ښایي ولري. تاسې راسره موافق یاست؟
دورانی: قطعاً. څومره چې وضعیت پېچلی کیږي، هماغومره دې ته اړتیا ډېرېږي. دوی یوازیني کسان دي، چې په سختو شرایطو کې، شعوري عمل کولی شي.
دلته آن په کور دننه په استخباراتي ډگر کې په همکارۍ او د معلوماتو په شریکولو کې ستونزې موجودې دي. دا ستونزه یوازې له دې کبله نه ده، چې څوک غواړي په هغې کرېډېټ ترلاسه کړي، بلکې له دې امله هم ده، چې ډېری وخت دوی ډاډمن نه وي، چې آیا له نورو سره مشکوک اطلاعات شریک کړي کنه. کېدای شي دا اطلاعات د سرچینې یا د بل لوري د گمراهۍ لامل شي.
خو همدا همکاري د هغو مشخصو ډلو پر خلاف اغېزناکه او گټوره ثابتېدی شي، چې غواړي د سولې هڅې ټکنی کړي. دا له له تش په نامه ملگرو سره له همکارۍ ښه ده.
دولت: حقیقت دا دی، چې ډېره خرابکاري او ترهگري له پاکستانه سرچینه اخلي. خو که د استخباراتي سازمانونو ترمنځ پوهاوی او اړیکې موجودې وي، دې ته په اسانۍ سره رسېدنه کېدای شي. اجازه راکړئ ووایو، چې لشکر طیبه ISI ساتي او چلوي.
دوی ښایي حافظ سعید را ونه سپاري، خو که همکاري مو درلودای، نو نور کارونه شوني وو.
سېنها: لکه څه؟
دولت: فکر وکړه هر څه چې غواړې؛ ستونزمنه نه ده.
موږ وړاندې له بهرنیو خدمتونو سره د پیوستون خبره وکړه. مهم ټکی چې جنرال صېب یې وړاندې یادونه وکړه، دا دی، کله چې تاسې ښه تړون او د مسایلو دوامداره تحلیل او تجزیه ولرئ، نو یو سازمان ډېر کم گټور یا عملیاتي شیان شریکوي.
له بلې خوا، څنگه چې موږ په سویل ختیزه اسیا کې عمل کوو، نو له مخې به یې د دا ډول اطلاعاتو شریکول او له یو بل سره همکاري اسانه وي. د مثال په ډول، که کلبهوشن یادېو متحدو ایالتونو نیولی وای، نو بېرته راگرځول به یې ناممکن وای. خو پاکستان ته دا کار دومره ستونزمن نه دی. په ۲۰۰۴ کال کې د RAW یو جگپوړی افسر امریکا ته وتښتېد او موږ یې تر اوسه په اړه معلومات نه لرو. ځینې وایي، په ویرجینیا کې اوسي، خو د مړینې اوازې یې هم شته دي.
اوس دا کار سخت ښکاري، خو له پاکستان څخه به یې راگرځول اسانه و.
دورانی: که څه هم قضیې ته یې زموږ لخوا سمه رسیدگي نه ده شوې، خو زه مې د ملگري له دې خبرې سره موافق یم، چې یادېو به بلاخره بېرته وگرځي. ښه لاره به یې دا وه، چې را ته یې یو پیغام پرېښی وای، ټولې پټې او ښکاره گټې یې ارزولې وای او په یوه مناسب وخت کې په ښه بیه بېرته گرځول شوی وای.
سېنها: چې د دومره استخباراتي همکاریو شونتیا وي، نو بیا ولې د وسیلې په توگه د وېرې او ترهې کارېدل پای نه مومي؟ ولې ستاسې خاوره کې د لشکر طیبه مخه نه نیول کېږي؟ ولې حافظ سعید ونه سپارل شي؟ که دا یوازې د غوړو په څیر د سختو موضوعاتو د نرمښت لپاره کارول کېږي.
دولت: غوړ نه دي، خو د سخت وضعیت له نرمولو سره مرسته کولی شي. **دوام لري...**

# بي ایم ډبلیو

حشمت الله نوري



په دې کې شک نشته چې BMW د نړۍ تر ټولو ستره کمپنۍ ده، په نړیواله کچه مشهوره ده، ښایي د شهرت دلیل یې هم د ځانگړو او ښکلو موټرونو تولید وي او دغه تولید یې په ځانگړې توگه په وروستیو لسیزو کې په بازارونو کې ځانگړی نوم لري. خو تر ټولو مهمه دا چې دا شرکت نوي کلن تاریخ لري، د دغې کمپنۍ لومړني موټرونه اوس هم د نړۍ د صنعت په شهکار کې راځي.
خو دغې کمپنۍ په لومړي سر کې د الوتکو پرزې تولیدولې، څه وشول او دا فکر یې له کومه کړ چې دا کمپنۍ دومره لویه شوه؟ له کومه ځایه یې پیل وکړ او څنگه مخ ته ولاړه؟ څنگه یوه وړه د ننني نړۍ د موټر جوړولو تر ټولو ستره کمپنۍ شوه؟
بي ایم ډبلیو په نړۍ کې د موټر جوړولو ستره کمپنۍ ده. بي ایم ډبلیو په آلماني کې د درېو کلمو مخفف دی چې مانا یې د براین د موټر جوړولو کمپنۍ ده. دا په آلمان کې د موټر جوړولو ستره کمپنۍ ده چې تر ډېره لوکس قیمتي موټر او موټرسایکلونه جوړوي. مرکزي دفتر یې د آلمان په مونیخ ښار کې دی.
BMW خپل لومړی کار د موټر سایکلونو له جوړولو او د الوتکو د پرزو له جوړولو پیل کړ. وروسته یې موټرسایکلونه جوړول، د جوړېدو له تاریخه تر ۱۲ کالو په دې کمپنۍ کې د موټر د جوړلو کوم خبر نه و. یاد شرکت د لومړي ځل لپاره په ۱۹۱۳ کال کې پیل شوی دی. د جوړېدو تاریخ یې هغه وخت پیل شو چې کارل فریدریش راپ د الوتکو د انجنیرۍ په برخه کې زده کړې وکړې او په یوه وړه فابریکه کې یې د الوتکو د پرزو په جوړولو لاس پورې کړ.
کار له دې مودې تر ۱۹۱۲ کال پورې د موټر جوړولو په دوو کمپنیو زوست او دایملر بنز کې کار کاوه، هغه په دې برخه کې تجربه هم لرله، وروسته وروسته یې فعالیت پراخ شو او په دې برخه کې یې ډېرې بریاوې په برخه شوې. د هغه لومړنۍ مینه او کار د الوتکو د جوړول وو، په دې برخه کې هم بریالی و او تر خپلې وسې یې د الوتکو په جوړولو کې نوښتونه وکړل او پرزې یې په سمه توگه تولیدولې او کوښښ یې دا و چې په سمه توگه یې جوړ او نوې تخنیکونه پکې وکاروي.
وروسته های ویرت آلماني سیاستوال له کارل ملاتړ وکړ او د جوزف ویرت په نامه یې وړه کمپنۍ جوړه کړه، چې په ۱۹۱٦ کال کې یې په پراخه پیمانه د پرزو تولید پیل کړ، په همدې کال کې یې پرېکړه وکړه چې خپله سوداگري پراخه کړي، خو د دې کار لپاره له ځینو مالي ستونزو سره مخ شول او کمپنۍ د جوزف ویرت له کمپنۍ بېله شوه.
خو کارل چې په الوتکو مین و، له خپله کاره یې لاس نه اخیست، وروسته یې بیا د خپل یوه ملگري په مرسته او ملاتړ د مونیخ ښار په یوه لرې پرته سیمه کې د راپ په نامه یوه کمپنۍ جوړه کړه. وروسته د ځینو ستونزو له امله اړ شو چې له بي اف ډبلیو سره یو ځای شي او همدې یو ځای کېدو په برکت دا کمپنۍ پراخه شوه او پر بي ایم ډبلیو بدله شوه.
کار او همکاران یې په همدې موده کې د الوتکو د پرزو پر تولید هم بوخت وو، کار یې ورځ تر بلې پراخېدو، سوداگرۍ یې نسبتاً بریالۍ وه، په ۱۹۱۸ کال کې بي ایم ډبلیو یوه الوتکه تولید کړه چې په هغه وخت کې یې تر ټولو ښه سرعت درلود او تر ټولو ښه طراحي یې درلوده.
وروسته د دې الوتکې له جوړېدو BMW کمپنۍ نوره هم مشهوره شوه او شهرت یې د نړۍ گوټ گوټ ته ورسېد. د لومړنۍ نړیوالې جگړې د پیل پر مهال هم دې کمپنۍ لوړ نوم درلود او ډېرې کمپنیو د خپلو الوتکو د اړتیا وړ پرزې له همدې کمپنۍ اخیستې او کار یې د باور وړ و.
دې کمپنۍ لومړنی موټر په ۱۹۲۸ میلادي کال کې تولید کړ. د همدې کال په منې کې دغې کمپنۍ یوه وړه ځانگه پرانیستله، په دې ځانگه کې به د موټر سایکلونو او موټرونو لپاره پرزې تولیدېدلې، نوم یې فاقزوگ فابریک آیسناخ و، دا ځانگه یې په ډېرو کمو پیسو خپله کړې وه.
دغې کمپنۍ واړه موټرونه جوړول، دیکسي نومېدل، وروسته چې کله د BMW وسایل په دې کار ځای کې ځای پر ځای شول او نوی کار پیل شو، نو د دې موټرونو د تولید لړۍ ودرېده. خو د کارل او همکارانو په ذهن کې یې یوه نوې مفکوره پیدا شوه، دوی د همدې کمپنۍ د جواز په کارولو د نوو موټرونو په تولید لاس پورې کړ. لومړنی موټر یې بي ایم ډبلیو دیکسي ۳ نومېدو.
دیکسي ساده موټر و، په اوبو د سړېدو وړتیا یې لرله، چې په هغه وخت کې نادر کار و او په ساعت کې یې ۷۵ کلیومتره سرعت و، څلور سلنډره ماشین یې درلود او ډیزاین او طراحي یې ډېره ښکلې وه. تر ډېرو کلونو د دیکسي درې انځورونه د ورځپاڼو ټاپ خبر و، دا موټر تر هغه ډېر له تاوده هر کلي سره مخ شو تر کومه یې چې جوړوونکو اټکل کړی و، په دوو کالو کې ۱۸۰۰۰ زره دانې وپلورل شول، چې په هغه وخت کې د پام وړ عدد و.
په ۱۹۳۰ کال کې د دیکسي ۳ موټر پر جوړښت او ډیزاین نوي کارونه وشول، آرنگ، ماشین، سیټونه او هر څه یې د جذابیت په لور روان وو، د بدنې ځینې برخې یې له فولاتو جوړې شوې، دا نو د دې لامل شول چې قیمت یې لوړ، کیفیت یې ښه او مقاومت یې ډېر شي. په همدې کال کې دیکسي ۳ د موټر ځغلونې په سیالۍ کې گډون وکړ او په دې بریالی شو چې لومړۍ درجه بریا خپله کړي. دا بریا د دې لامل شوه چې د BMW انجنیران د موټر جوړونې نوې مرحلې ته د ننه شي او په دې توگه خپلو کارونو ته پراختیا ورکړي. دوی همدارنگه کوښښ وکړ چې سپورتي او مسابقه یې موټرونه تولید کړي او تر ډېره په دې برخه کې بریالي را ووتل.
سمه ده چې نن به د لوړ سرعت لرونکي موټرونه په بازارونو کې وي، خو یو وخت داسې هم و چې د هېڅ موټر د سرعت ستنې تر ۷۹ پورته درجه نه لرله، خو BMW غوښتل په دې امپیر کې د ۱۰۰ عدد ور زیات کړي، په هغه وخت کې دا یو خوب و او هېچا دا فکر نه کاوه چې یو وخت به موټر د ۱۰۰ کلیومتره پر ساعت سرعت ولري. دیکسې ۳ په هغه وخت کې د سرعت له اړخه ریکارډ جوړ کړی و، هغه دومره وړتیا لرله چې له ۰ تر ۴۰ کیلومترو سرعت یوازې په ۱۰ ثانیو کې واخلي، د همدې سرعت له امله و چې په سیالیو کې یې لومړی مقام وگاټه. خو په هر صورت د دیکسي ۳ تولید د BMW لپاره هم یو چلنج و، چې وروستي کارونه یې تر دې غوره وي او هم یو ویاړ و چې د خپل وخت تر ټولو قوي چټک او کلک موټر یې تولید کړی و. یوازې درې کاله وروسته BMW په دې بریالۍ شوه چې لومړنی ٦ سلنډره موټر جوړ کړي، د دغه موټر نوم BMW۳۰۳ و، دا موټر هم د تېر په څېر د خلکو له تاوده هر کلي سره مخ شو او دې کمپنۍ ته یې ویاړونه راوړل.
دا موټر د دیکسې موټر پرمختللې بڼه وه، توپیر یې په دې کې و چې هغه ۴ سلنډره لرل، خو دغه موټر بیا ٦ سلنډره لرل. سرعت یې ۱۰۰ کلیومتره و، دا نو لومړی ځل و چې BMW داسې موټر جوړ کړ چې د سرعت امپیر یې د ۱۰۰ عدد درلود. سره له دې چې بازار یې گرم و، خو دغې کمپنۍ یوازې ۲۳۰۰ دانې تولید کړل چې اوس یې هم یوازې ۴ یا ۵ دانې ساتل شوي دي او خلک یې ننداړې ته ورځي. دوی نو همدلته تم نه شول په ډېر جدیت یې کار کاوه.
BMW کمپنۍ یو دم دومره لوړو پوړیو ته نه ده رسېدلې. دغه بریالی شرکت د خپل تاریخ په اوږدو کې له ډېرو لوړو ژورو سره مخ شوی دی. دا شرکت کله پر ځمکه لگېدلی دی، خو پورته شوی او خپله لار یې په منظم فکر او پلان وهلې ده. په دې توگه وه چې نن خپله بریا لمانځي او د نړۍ په بریالیو شرکتونو کې یې خپل ځای ساتلی دی.
تر دویمې نړیوالې جگړې د دغې کمپنۍ عمده تولیدات موټرونه او موټرسایکلونه وو، د جگړې په اوږدو کې د دغې کمپنۍ مدیرانو د توقع خلاف یو ځل بیا د موټرونو تولید ته مخه کړه، دوی موټر سایکلونه لا هم جوړول، خو د موټرو تولید یې د یو څه مودې لپاره ودراوه. تر ۱۹۴۵ کال چې کله جگړه ودرېده یو ځل بیا یې د موټرونو په تولید لاس پورې کړ. خو کله چې په دویمه نړیواله جگړه کې د موټر جوړونې برخه بمبار شوه، نو کمپنۍ له مالي ستونزو سره مخ شوه، همدې پېښې دغه شرکت له جدي مالي ستونزو سره مخ کړ او اړ شو چې خپلې ډېرې بریاوې له لاسه ورکړي. د کمپنۍ شریکانو هم دوې لارې لرلې یا به یې په همدې گوډ مات حالت کې خپل کار ته دوام ورکولی یا به یې کمپنۍ سقوط کولی. بالاخره پرېکړه دا شوه چې کمپنۍ به خپل کار ته ادامه ورکوي.
دوی د خپل کار د ادامې لپاره اړ وو چې یوه نوې فابریکه وپېري؛ ځکه پخوانۍ فابریکه په بمبارۍ کې ورانه شوې وه. دوی د ایزو ایستا کمپنۍ واخیسته، ځکه دې کمپنۍ به کوچني او ارزانه موټر تولیدول او له جگړې وروسته یې مینه‌وال ډېر وو، ځکه د خلکو اقتصادي حالت خراب شوی و. د ایزو استا کمپنۍ وکړی شول چې BMW د اوو کالو په اوږدو کې له ماتې وژغوري، دوی وکړی شوی چې خپلې بریاوې د تېر په څېر ولمانځي او له خوښیو ډکې شېبې ولري. څو کاله وروسته یې خپل کار پراخ کړ، د رورو ډله یې واخیسته، لنډ رورر، روور، او ام جي کمپنۍ یې واخیستې، خو دغې کار یادې کمپنۍ ته یوازې زیان درلود، گټه یې ورته ونه کړه. تر شپږو کالو زیان وروسته په ۲۰۰۰ کال کې BMW د رورو کمپنیو امتیاز وپلوره چې په دې سره یې د سترو زیانونو مخه ونیوله، خو پر وړاندې یې د رولزرویس کمپنۍ خپله کړه او د دې کمپنۍ امتیازات یې خپل کړل.
په ۱۹۲۸ کال کې یې لومړنی ساده کوچنی موټر جوړ کړی و، خو دمگړۍ یې تر ۳۰۰ ډېر ماډلونه بازار ته وړاندې کړي دي. د دې کمپنۍ لخوا تولید شوي هر موټر په خپل وخت کې د طراحۍ او ښکلا انقلاب راوستی او د مینه‌والو له هرکلي سره مخ شوی دی.
نن سبا BMW په آلمان کې د هغه هېواد ملي موټر دي، قېمتي موټرونه دي او هېڅ ځای هغه د دیکسي په توگه نه کاروي، راحت، امن، د باور وړ، جذاب، هغه څه دي چې ۹۸ سلنه یې د BMW په پلور کې ونډه اخیستې ده.
یاده کمپنۍ یوازې موټر نه موټرسایکلونه هم تولیدوي چې همدومره قیمتي او امن دي. لومړنی موټرسایکل یې په ۱۹۵۵ کال کې تولید کړی و، چې ایزتا ۲۵۰ نومېده. سرعت یې ۸۵ کیلومتره په ساعت کې و، اووه کاله یې یاد موټر سایکل تولید کړ، چې ټول ۱٦۱ دانې وو.
د BMW لوگو هم ښکلې کیسه لري، لومړی مو وویل چې کارل فریدرش د الوتکې له جوړولو سره مینه لرله، دا سمبول په لومړي سر کې د الوتکې د څرخ حرکت ته ورته و، هغه په لومړي سر کې د الوتکې له جوړولو سره مینه لرله او دې کمپنۍ هم په اول وخت کې دالوتکې پرزې جوړولې. ده ډېر وخت په دې برخه کې کار هم وکړ، خو په ۱۹۲۰ کال کې یې د الوتکې کاروبار پرېښود، خو نښان همداسې پاتې شو. دا نښان همغه د الوتکې د څرخ حرکت ښیي، خو سپین او آبي رنگ یې بیا بېله مانا لري. ځینې وایي آبي رنگ هغه آسمان دی چې د الوتکې د څرخ له پرونو ښکاري، خو ځینې بیا وایي چې دا د آلمان د بایرن بیرغ ته ورته دی.
په دې وروستیو کې هڅې کوي چې د دنیا پر وروستۍ ټکنالوژۍ سمبال موټرونه نړۍ ته وړاندې کړې، د بېلگې په توگه، الکترونیکي او ځیرک موټرونه، سره له دې ستر او بار وړونکي موټرونه هم د یادې کمپنۍ له تولیداتو دي.
دمگړۍ یوازې په آلمان کې نه ده؛ بلکې د نړۍ په گوټ گوټ کې فعال کارځایونه او ځانگې لري. زرگونه کسان کار ورسره کوي او په نړۍ کې میلیونونه مینه‌وال لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸.۲۰ |
| € | ۹۴,۴۰ |
| Rp. | ۴۹٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۹ |


### بیړنۍ شمیرې

| | |
|---|---|
| پولیس | 119 - 100 |
| امبولانس | 112 |
| اتاترک روغتون | 0202500312 |
| ملالی زیږنتون | 0202201377 |
| وزیر محمد اکبرخان روغتون | 0202301360 |
| رابعه بلخي روغتون | 0202100439 |
| د کرونا روغتیایي مرکز | 166 |

همیانی

# دغه عادتونه مو ځیگر ته زیان رسوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي



ځیگر د انسان د حیاتي غړو له ډلې شمېرل کېږي، چې ډېرې دندې تر سره کوي. د بېلگې په توگه: وینه تصفیه کوي، له جذب شویو موادو څخه مضر هغه یې بېلوي او د ځیگر اړوند هورمونونه تولیدوي. خو که ځیگر زیان ووینی، بیا نه شي کولی خپله دنده سمه پر مخ یوسي، چې بیا په بدن کې د ډېرو نورو ناروغیو لامل کېدای شي.

تر ډېره غیر سالم غذایي رژیم او د ژوند نامنظمه تگلاره د ځیگر د ناروغیو اصلي لامل کېدای شي. د خواشینۍ وړ خبره دا ده، چې د ځیگر د ناروغیو درملنه په سختۍ کېږي او ډېر کله ان د درملنې وړ هم نه وي. نو ښه ده چې د روغتیا لپاره یې دغه ټکي په پام کې ونیول شي.

**۱- ډېره خوږه مه خورئ**

له کچې زیاته خوږه نه یوازې د غاښونو لپاره، بلکې د ځیگر لپاره هم زیان رسوونکې ده. ځیگر د فروکتوز په نوم له خوږې گټه اخلي او پر غوړو یې بدلوي. کله چې ډېره تصفیه شوې خوږه او هغه شربت وخوړل شي، چې په زیاته کچه فروکتوز لري، په ځیگر کې د زیاتو غوړو د تولید لامل کېږي، چې په پایله کې د ځیگر ناروغۍ زیږوي. وروستیو څېړنو ښودلې ده، چې ډېره خوږه د هغو کسانو لپاره هم چې وزن یې کم وي د الکولو په څېر زیان پېښولی شي. نو هڅه باید وشي چې له ډېرو هغو خوړو چې د خوږې کچه پکې زیاته وي، لکه نوشابې، انرژۍ، غیر سالم جوس او نور ډډه وشي.

**۲- په خپل سر یوناني درمل مه کاروئ**

یوناني درمل که څه هم چې په پوره طبعي ډول جوړ شوي وي، کېدای شي د ځیگر لپاره زیان پېښ کړي. تاسو به لیدلي وي، چې زموږ ډېری هېوادوال له دې ډول درملو څخه گټه اخلي او ان د روغتیا وزارت هم د دې ډول درملو درملتونونو ته د کار اجازه ورکړې ده. څېړنو ښودلې ده، دا چې په دې ډول درملو کې د بېلابېلو بوټو د یو ځای کېدو انډول په پام کې نه وي نیول شوی، نو کېدای شي ځیگر ته زیان واړوي او د تور یا هم سپین ژېړي لامل شي. په ډېری هېوادونو کې د دې ډول درملو کارول بېخي بند شوي دي، خو په ځینو هېوادونو لکه هند او نورو کې لا هم له یوناني درملو څخه گټه اخیستل کېږي او کارونه یې پر یوه سنت بدله شوې ده. خو که یې کاروی، هم باید په دې برخه کې له ډاکټرانو سره مشوره وکړئ.

**۳- وزن مو کم کړئ**

زیاتې وازدې کېدای شي د ځیگر په سلولونو کې ځای ونیسي او د ځیگر د غوړوالي لامل شي، چې دا خپله د ځیگر لویه ناروغي بلل کېږي. د وخت په تېرېدو سره کېدای شي ځیگر وپړسېږي، کلک شي او جوړښت ته یې زیان ورسېږي. داکټران دې ناروغۍ ته د ځیگر خوړینبدل وايي. د وزن زیاتوالی او په کوچنیوالي کې پر شکرې ناروغۍ اخته کېدل د ځیگر خوړینوالي ته لار هواروي. یوازې یو کوچنی بدلون کولی شي ستاسو ژوند وژغوري. سالم غذایي رژیم او ورزش کولی شي له دې ناروغۍ مو وژغوري.

**۴- له اړتیا زیات ویټامین A مه اخلئ**

دا سمه ده چې زموږ بدن ویټامین اې ته اړتیا لري، خو ښه دا ده چې د اړتیا وړ ویټامین له سبو او مېوو څخه پوره کړو، هغه هم له سرو، زېړو او نارنجي مېوو څخه. هڅه وکړئ چې په خپل سر د ویټامین اې ټابلېټونه ونه کاروئ، ځکه کېدای شي بدن مو ورته اړتیا ونه لري. په خپل سر د ویټامین اې گولۍ او بستې کولی شي د ځیگر لپاره نه جبران کېدونکی زیان پېښ کړي. له ډاکټر سره مشوره وکړئ څو پوه شئ، چې ایا په رښتیا سره مو هم بدن ویټامین اې ته اړتیا لري او که نه.

**۵- گاز لرونکې نوشابې مه څښئ**

څېړنو ښودلې ده، چې پر الکول سربېره نوشابې هم د دې لامل کېږي، چې تاسو د غوړ ځیگر پر ناروغۍ اخته شی. که څه هم چې په دې برخه کې لا څېړنې روانې دي، خو دا هم یې هم یو دلیل کېدای شي، چې د دې ډول نوشابو له څښلو ډډه وکړئ.

۶- په خپل سر مسکن درمل مه کاروئ

مسکن درمل چې په اډانه کې یې تر ډېره استامینوفن دي، که له کچې ډېر مصرف شي ځیگر ته زیان رسوي. ډېری کسان کله یې چې پر سر او ځان درد وي او یا هم یخ وهلي وي، دغه ډول درمل کاروي. ایا له زیانونو یې خبر دي؟ پر یو وخت د زکام یا ریزش له درملو سره مسکن درمل کارول مو ځیگر ته زیان پېښوي، ځکه کوم درمل چې د زکام لپاره کارول کېږي هغه هم په زیاته پیمانه استامینوفن لري. نو څومره چې کولی شی، کم یې کړئ.

**۷- سره کړي خواړه ډېر مه خورئ**

سره کړي خواړه د ځیگر لپاره زیان رسوونکي دي. هغه خواړه چې ډېر سره شوي وي، په وینه کې د مضرو غوړو کچه لوړوي، چې دا خپله د ځیگر لپاره لوی زیان پېښوي. دغه راز کله چې په بازار کې تیار پاخه شوي او پک شوي خواړه اخلی، د غوړو اندازه یې وگورئ. ان کې یې د ترانس غوړو کچه صفر هم وي، بیا هم کېدای شي دغه ډول غوړ پکې وي او د ځیگر لپاره گران پرېوځي.

**۸- دغه تېروتنې مه کوئ**

د خلاصې شوې او مشترکې ستنې کارول هم کېدای شي د ځیگر لپاره گواښ پېښ کړي. په اصل کې ستونزه په ستن کې نه، بلکې په کارولو کې ده. که ستن د هېپټایټ سي پر ویروس لړل شوې وي، په ډېرې اسانۍ سره د وینې له لارې خپرېدای شي. ان که یو ځل هم دغه پېښه تکرار شي او یا مو هم مور هغه وخت چې تاسو یې پر پوست وی، د سي هېپټایټ پر ناروغۍ اخته وي، هرو مر مو وینه چک کړئ څو ډاډه شی.

**۹- الکول مه کاروئ**

جوته خبره ده، چې الکول په ټوله کې د روغتیا لپاره زیان رسوي، خو په ځانگړي ډول لومړی ځیگر له منځه وړي. د الکولو کارول مو په ډېرې اسانۍ سره د ځیگر پر ناروغۍ اخته کولی شي. که غواړی روغتیا مو تضمین وي، بد عادتونه پرېږدئ او د ژوند کولو غیر سالمه تگلار مو همدا نن بدله کړئ.

## راپورونه: د نایجیریا په لوېدیځ کې د وسله والو په خونړي برید کې ۸۸ کسان وژل شوي



د راپورونو له مخې، په نایجریا کې د ځارویو وسله والو غلو د دغه هېواد په شمال لوېدیځ د کیبي په ایالت کې په اوو کلیو بریدونه کړي او شاوخوا ۸۸ کسان یې وژلي دي. که څه هم د برید په لومړیو کې د ٦٦ کسانو د وژل کېدو راپورونه خپاره شوي وو، خو تازه د یاد هېواد چارواکو ویلي چې دغه شمېر ۸۸ کسانو ته لوړ شوی دی.

د نایجریا د امنیتي چارواکو په خبره، وسله والو غلو د ځارویو او کلیوالو د لوټلو او تښتولو لپاره پر کلیوالو بریدونه کړي وو. د کیبي ایالت د پولیسو ویاند نافیو ابوبکر د فرانسې خبري اژانس ته ویلي، لسگونو وسله والو چې په موټرسایکلونو سپاره وو، پر کلیو بریدونه کړي او یاده مرگ ژوبله یې اړولې ده. د دوی په خبره، ډېری خلک د برید پر مهال له خپلو کورونو تښتېدلي وو چې ځینې یې لا هم تري تم دي.

ابوبکر زیاته کړې چې دوی د ورکو شویو کسانو د لټون چارې پیل کړي او ښایي د مړو شمېر تر دې نور هم زیات شي. هغه ویلي چې سیمې ته نور امنیتي ځواکونه هم لېږل شوي، ترڅو د نورو بریدونو مخه ونیسي.

د یاد هېواد سیمه‌ییزو چارواکو ویلي چې ښایي بریدگر له نایجیر او زمفرا ایالتونو څخه ورغلي او په دغو سیمو یې بریدونه کړي دي. د یادونې ده چې په تېرې اپرېل میاشت کې هم د ورته برید په پایله کې نهه پولیس وژل شوي وو.

د نایجریا شمال او شمال لوېدیځې سیمې د جنایي ډلو مرکزونه بلل کېږي، چې پر کلیو او کلیوالو بریدونه کوي او کورونه سوځوي. دغه وسله والې ډلې په ورشېرمه ځنگلونو کې کمپونه لري. د نایجریا امنیتي ځواکونه چې له کلونو راهیسې له جنگي ډلو سره په جگړه بوخت دي، له دغو وسله والو سره مبارزه ورته یو بل سرخوږی دی. د ډسمبر له میاشتې راهیسې په دغه هېواد کې وسله والو شاوخوا ۷۰۰ ماشومان د پیسو لپاره تښتولي دي.

په ورته مهال د ملگرو ملتونو د شمېرو له مخې، له فبرورۍ میاشتې راهیسې په دغه هېواد کې نږدې ۷۰۰زره کسان د تاوتریخوالي له کبله بې ځایه شوي دي.

## عامې روغتیا وزارت: د کرونا د پېښو په زیاتېدو ښايي هېواد د اوکسیجن له جدي کمښت سره مخ شي

عامې روغتیا وزارت وايي چې په هېواد کې د کرونا د مثبتو پېښو زیاتوالي ته په کتو هڅه کوي چې روغتونونه د اکسیجن د کمښت له ستونزې سره مخ نه شي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند میرویس علیزی وايي چې د اوس لپاره د اکسیجن ستونزه جدي نه ده، خو که په کتلوي ډول خلک ډېر پر کرونا اخته شي، نو ښایي هغه مهال دا په یوه جدي ستونزه بدله شي.

هغه زیاتوي: «ناروغان زموږ د اکسیجن له کمښت سره مخ نه دي، موږ د عامې روغتیا وزارت چې کله د جناح روغتون پرانیست، هلته د اکسیجن دستگاه موجوده ده چې تر ۱۵۰ بالونونو پورې به اکسیجن ناروغانو ته تولیدوي، یعنې څه مشکل به نه وي او د افغان ـ جاپان روغتون ته هم کومه دستگاه چې د اکسیجن د تولید لپاره ځانگړې شوې، هغه به هم په نږدې ورځو کې هلته نصب کړای شي.»

تر دې مخکې د عامې روغتیا سرپرست وزیر وحید مجروح ویلي وو چې د هېواد په کچه د اکسیجن د تولید امکانات محدود دي او له خلکو یې غوښتي وو چې د کرونا درېیمه څپه جدي ونیسي او د امکان تر حده په خپلو کورونو کې پاتې شي.

نوموړي خبرداری ورکړی، چې د کرونا درېیمه څپه په هېواد کې په چټکۍ د خپرېدو په حال کې ده او څه باندې شل ولایتونه یې هغه ولایتونه یاد کړي چې د ده په وینا، یا پکې د کرونا درېیمه څپه اوج ته رسېدلې یا د رسېدو په حال کې ده. د عامې روغتیا وزارت د مرستیال ویاند په خبره، په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د هېواد په ټولو روغتونونو کې ۴۵۴۴ تنه ټېسټ شوي چې له دې ډلې یې د ۱۳۷۹ کسانو پایلې مثبتې وې او ۵۰ کسان ترې مړه شوي هم دي. د نوموړي په وینا، په دې سره په ټول هېواد د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۸۰زره او ٦۱۵ ته رسېدلی دی.

په افغانستان کې د کرونا د درېیمې څپې له پراخېدو سره اندېښنې په زیاتېدو دي چې ښایي د دغه هېواد روغتیایي کمزوری سیستم د دې وړتیا ونه لري چې د کرونا ناروغانو درملنې ته ورسېږي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



WAYGAL
PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د جون ۷مه | ۷۲۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ۴۴ | ۴۳ | ۴۳ | ۴۵ | ۳۸ |
| ۲۰ | ۲۶ | ۲۶ | ۲۹ | ۲۷ | ۲۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۴ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:۴۹

## نړۍ



راپورونه: د نایجیریا په لوېدیځ کې د وسله والو په خونړي برید کې ۸۸ کسان وژل شوي ۵

## راپورونه: په بورکینافاسو کې د وسله وال برید د وژل شویو کسانو شمېر ۱۳۲ تنو ته رسېدلی



د بورکینافاسو په شمال کې د وسله والو په خونړي برید کې د وژل شویو کسانو شمېر ۱۳۲ تنو ته لوړ شوی دی.

د دغه هېواد چارواکو په یوه بیان کې دغه بریدکوونکي ترهګر او وحشیان بللي دي. دا خونړۍ پېښه د تېرې شنبې په شپه د نایجیر پولې ته نږدې په شمالي ښار سولهان کې شوې ده.

دا په دغه هېواد کې چې له پنځو کلونو راهیسې له القاعده او د اسلامي دولت ډلې سره د تړلو وسله والو فعالیت پکې زیات شوی، تر ټولو خونړۍ پېښه ده. د بورکینافاسو حکومت په یوه بیان کې ویلي چې وسله والو د خلکو کورونو او بازارونو ته هم اور ورته کړی او سیمه‌ییزو چارواکو دغه راز ویلي چې ښایي د وژل شویو کسانو شمېر زیات شي.

له القاعده او داعش ډلو سره د تړلو وسله والو د بریدونو په پایله کې په ساحل سیمه په تېره بیا د بورکینافاسو، مالي او نایجیر د هېوادونو په خاوره کې په زرګونو کسان وژل شوي او شاوخوا دری میلیونه وګړي هم له خپلو اصلي مېنو بې ځایه شوي دي.

د فرانسې په مشرۍ د سیمې د پنځو هېوادونو په ګډون د ترهګرۍ ضد ائتلاف تر اوسه نه دی توانېدلی، چې په دې سیمه کې د جهادي ډلو د فعالیت د پراخېدو مخه ونیسي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر نږدې ۱۷۴ میلیونو کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو لـه مخـې، پـه نـړۍ کـې پـر کرونـا ویـروس د اختـه کسـانو شـمېر۱۷۳ میلیونه او ۸۰۱ زره او ٦۷۰ کسـانو تـه رسـېدلی دی. دغـه راز د یاد ویـروس لـه کبلـه تـر دې مهالـه درې میلیونـه او ۷۳۸ زره او ۲۳۰ کسـان مـړه شـوي او نـږدې ۱۵۷ میلیونـه تـرې ښـه رغېـدلي دي.

د یـادو شـمېرو لـه مخـې، د امریـکا متحـده ایالتونـه د دغـه ویـروس د ډېـرو مثبتـو پېښـو او قربانیانـو لـه اړخـه د نـړۍ تـر ټولـو مخکښ هېـواد دی. د راپورونـو پـر بنسـټ، پـه امریـکا کـې د دغـه ویروس مثبتې پېښـې ۳۴ میلیونه او ۲۰۴ زره او ۴۷۸ تـه رسـېدلي او ٦۱۲ زره او ۲۰۹ نـور امریکایـان تـرې مـړه شـوي دي.

دغـه راز هنـد د ۲۸ میلیونـه او ۸۲۰ زره او ۱۵٦ مثبتـو پېښـو لـه اړخـه د نـړۍ دویـم، برازیـل د ۱٦ میلیونـه او ۹۰۷ زره او ۴۲۵ مثبتـو پېښـو پـه درلـودو سره د نـړۍ دریـم، فرانسـه د پنځـه میلیونـه او ۷۰۷ زره او ٦۸۳ مثبتـو پېښـو لـه اړخـه د نـړۍ څلـورم او ترکیـه د پنځـه میلیونه او ۲۸۲ زره او ۵۹۴ مثبتو پېښـو پـه درلـودو سره د نـړۍ پنځـم هغـه هېـواد دی، چـې د کرونـا ویـروس ډېرې پېښـې پکـې ثبـت شـوي دي.

روسـیه، برېټانیـا، ایټالیـا، ارجنټایـن او جرمنـي بیـا پـه ترتیـب سره شـپږم، اووم، اتـم، نهـم او لسـم هغـه هېوادونـه دي چـې د کرونـا لـه کبلـه ډېـر ځپل شـوي دي.

## چخانسوری: به زودی کار عملی پروژه تاپی در خاک افغانستان آغاز می‌شود



هارون چخانسوری، وزیر معادن و پترولیم کشور، در واکنش به انتقادها از عدم آغاز کار پروژه خط انتقال گاز ترکمنستان از مسیر افغانستان به پاکستان و هند می گوید «تاپی» پروژه خیالی نیست و سرمایه گذاری بزرگی روی آن انجام شده است.

او دیروز در جریان یک نشست خبری مشترک با محمدحنیف اتمر، وزیر خارجه کشور، گفت آماده گی فنی لازم برای آغاز کار پروژه تاپی در خاک افغانستان روی دست گرفته شده و حدود سه ماه دیگر زمان دقیق آغاز کار عملی مشخص می‌شود.


چخانسوری، در پاسخ به پرسش خبرنگاران مبنی بر این که شماری از باشنده‌گان هرات تاپی را پروژه خیالی می‌دانند، گفت: «تاپی پروژه خیالی نیست، اگر خیالی می‌بود بانک انکشاف آسیایی یک میلیارد دالر برایش تعهد نمی کرد».

وزیر معادن و پترولیم هم‌چنان افزود که ۵۳۰ میلیون دالر در مرکز استفاده گاز هرات سرمایه‌گذاری می‌شود، اما دلیل تأخیر در کار پروژه، آماده نشدن امکانات در خاک کشور ترکمنستان است. از جانب دیگر، مقام‌های حکومت افغانستان تأیید می کنند که ناامنی، مهم‌ترین چالش سد راه پروژه تاپی در کشور است.

حدود سه سال پیش، محمداشرف غنی، رئیس جمهور کشور، در مراسم رسمی آغاز کار عملی پروژه تاپی و در حضور رئیس جمهور ترکمنستان و نخست وزیر پاکستان وعده سپرد که گاز تاپی تا دو سال دیگر خانه هراتیان را روشن می کند، اما با گذشت یک سال از این وعده، تاکنون کار عملی تاپی در خاک افغانستان آغاز نشده است.

## ژوند

## ایسوس خپل ځانګړې موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ



ایسوس کمپنۍ د زېنفون۸ لړۍ دوه نوي ځیرک موبایلونه معرفي کړل. دغه ځیرک موبایلونه زېنفون۸ او زېنفون۸ فلېپ نومول شوي دي.

زېنفون۸


دغه ځیرک موبایل اوسنیو انډراېډ ځیرک موبایلونو په پرتله کوچنۍ مخپانه لري. زېفون۸ کې ۵٫۹ انچه اوږدوالې ډوله مخپانه ورکړل شوې چې ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې دوې کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي او ۱۲ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامرې پکې شاملې دي او بیه یې له ٦۷۰ یورو څخه پیلېږي.

زېنفون۸ فلېپ

څرنګه چې له نوم څخه یې هم ښکاري دغه ځیرک موبایل کې تاوېدونکې کامره ورکړل شوې ده. زېنفون۸ فلېپ کې ٦٫٦۷ انچه اوږدوالې ډوله مخپانه ورکړل شوې چې له ۹۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. د ځانګړي جوړښت لرلو له امله کاروونکې کولی شي همدغه کامرې د سېلفي اخیستلو لپاره هم وکاروي. د دغه ځیرک موبایل بیه له ۸۰۰ یورو څخه پیلېږي.

## له خوب وروسته مو ولې چورت خراب وي؟

ځینې کسان له خوب څخه تر راپورته کېدو وروسته د طبیعت یا موډ بدلون حس کوي. د بېلګې په توګه: خپګان، اندېښنه، غوسه، ډېره ستړیا او نور. دې حالت ته د (سهار خپګان) وایي، خو پوښتنه دا ده چې دا ستونزې یوازې تر کمزورۍ او غوسې پورې محدودې وي یا کومه ناروغي ده؟ په عموم کې هغه کسان چې په سهار د طبیعت یا موډ خرابوالی حس کوي او د وخت په تېرېدو ښه کېږي او بیا د سهار غوندې احساس نه کوي؛ روغتیایي کارپوهان د سهار پر وخت د طبیعت خرابېدو ته ځانګړې علت نه په ګوته کوي او وایي چې دا حالت ډېر سببونه لري. دوی وایي چې د سهار پر وخت هورمونیکي بدلونونه د طبیعت د خرابېدو سبب کېږي. ویل کېږي کله چې تیاره وي نو بدن



میلاتونین تیاروي او د کورتیسول هورمون په سهار کې فشار او خپګان ته په ځواب ورکولو کې مهم رول لوبوي. یانې د بدن نه توازن، د خوب کچه او روښنایي د موډ د بدلون سبب کېږي.


## کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې کاله پروړې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank